# د مهاجرينو لپاره په سکاټلينډ کې د اوسيدنې مشوره

# موږ څرنګه کولای شو مرسته وکړو

اپريل ۲۰۱۱

Housing - how we help - Pashto

زموږ د مهاجرينو ځای پر ځای کولو ډله

که تاسو په انګلستان کې د پاتې کيدلو لپاره اجازه ولرئ، موږ کولای شو تاسو سره د اوسيدنې انتخابونو کې مرسته وکړو او د اوسيدنې ستونزې حل کړو.

**تاسو ما سره کومه مرسته کولای شی؟**

موږ کولای شو د اوسيدنې حقونو په اړه تاسو تا مالومات او مشوره درکړو او کولای شو په لاندې برخو کې مرسته وکړو:

- د کور نشتوالی
- د اوسيدنې لپاره ستاسو حق
- د اوسيدلو لپاره له يوه انجمن يا د ځای پر ځای کولو يون نه څنګه غوښتنه وکړو
- له يو شخصي مالک څخه کرايه
- د نژادي زور زياتي سره معامله
- د کورنې تاوتريخوالې سره معامله
- ګنه ګونه
- د جوړونې ستونزې
- د سکاټلينډ نورو برخو ته ځای بدلول
- د متحده شاهي(UK) نورو برخو ته تلل، لکه انګلستان او والز
- د کرايې وروسته کيدل- څه بايد وکړئ که تاسو په وخت خپله کرايه ورنکړئ
- د ځای پر ځای کيدو ګټه او د محلي ځای پر ځای کيدو تخيف
- د ګاونډيانو سره ستونزې
- د نوې اجارې پيلول

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk

Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639

**موږ د ګروپ مالومات او مشورې غونډې هم وړاندې کوو**

د ګروپ مالوماتو غونډې هره میاشت زموږ په دفتر، ۵ کاډاګان سکویر، ګلاسکو کې نیول کیږي. زموږ د مشورې غونډې د مشورې او مالومات درلودونکې دي په اړه د:

- د ځای پر ځای کیدلو انتخابونه- یو ځل چې تاسو ته په انګلستان کې د پاتیکیدو اجازه درکړل شي، ستاسو عمومي حقوق تشریح کوي
- د کور نشتوالی- ستاسو د حقونو ټاکني ټآکي او تاسو باید د څه شي تمه ولرئ
- د اوسیدلو یونونه- تشریح کوي چې د اوسیدنې یون څه شی دی او له یوه یون څخه د اوسیدلو لپاره څنګه غوښتنه وکړو
- یوه نوې اجاره- ستاسو حقونه او مسؤلیتونه مشخصوي او دا چې د کور فرنیچر له کوم ځای څخه واخلئ
- شخصي کرایه ورکول- تشریح کېږي چې شخصي کرایه مطلب څه شی دی او د شخصي کرایه ورکولو نه مخکې تاسو باید څه شی ملاحظه کړئ

د راتلونکو وخت بندي شویو ګروپ غونډو په اړه مالوماتو لپاره له زموږ د دفتر کارمندانو څخه وپوښتئ یا په دې شمیره ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ اړیکه ونیسئ.

**څنګه په ګروپ غونډې کې ځای ونیسئ (نوم ولیکئ)**

په ګروپ غونډو کې د ځای نیونې لپاره زموږ وړیا شمیرې ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ سره اړیکه ونیسئ زموږ کارمندانو سره په دفتر کې خبرې وکړئ. له مځکني تلفونو څخه اړیکه نیول وړیا دي ولې له موبایل څخه نه.

ځایونه محدود دي او د مخکې راتګ، مخکې خدمت په بنسټ ولاړ دي. په هر ترتیب، که غونډه ډکه وه، نو تاسو کولای شئ په راتلونکې چمتو غونډه کې ځای ونیسئ.

که تاسو ژباړونکي ته اړتیا لرئ نو د ځای نیونې په وخت کې ووای.

بدبختانه موږ د د ماشوم ساتنې لپاره ورکتون نه لرو.

**موږ سره څنګه اړیکه ونیسئ**

زموږ سره د اړیکه نیولو لپاره دوه لیارې شته:

۱. په دې شمیرې موږ سره زموږ په مرکزي دفتر کې ناسته ونیسئ:
۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ـــــدا اړیکه له زیاتره تلفونونو نه وړیا ده، خو له موبایل څخه نه. موږ به له تاسو څخه څه توضیحات واخلو او د ناستې لپاره به تاسو سره بیرته اړیکه ونیسو.

۲. په روزماونټ لایف لانګ لیمنګ مرکز کې موږ سره د ناستې لپاره، په دې شمیره اړیکه ونیسئ:
**۰۱۴۱۵۵۲۳۰۹۰**. په روز ماونټ کې ناستې یوازې هره چهارشنبې چمتو دي.

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639